# دَ یهُوداه خط

## سلام

۱ دا خط دَ یهُوداه له طرفه دے چه دَ عیسیٰ مسیح غُلام اَؤ دَ یعقُوب ورور دے، اَؤ دَ
هغوئ په نُوم لیکلے شی چه دَ بلنے په وسیله خُدائے پلار ته عزیز دی اَؤ دَ عیسیٰ مسیح
په وسیله ساتلی شوی دی،

۲ رحم، سلامتیا اَؤ مینه دِ په تاسو زیاته وی.

## دَ دروغژنو اُستاذانو په خلاف عدالت

۳ زما دوستانو! کله چه ما تاسو ته دَ هغه خلاصُون په باب کښے دَ لیکلو زیات
کوشِش کولو په څۀ کښے چه مُونږ ټول شریک یُو، نو ما دا خط لیکل زیات ضروری
وګڼلو. زۀ غواړم چه تاسو دَ ایمان په حق کښے سخت محنت وکړئ ځکه چه دا ایمان
دَ خُدائے خلقو ته په یو ځل سپارلے شوے وو. ۴ زۀ دا ځکه وایم چه ځنے بے دینه
خلق په مُونږ کښے په پټه راګډ شوی دی چه زمُونږ دَ خُدائے فضل ته دَ خپلو شوقُونو
عُذر جوړ کړی، اَؤ زمُونږ دَ یکی یو واکمن مالِک، مالِک عیسیٰ مسیح نه اِنکار کوی. ډیر
پخوا پاک کلام دَ هغوئ دَ سزا ذکر کړے وو.

۵ تاسو ټول په دے ښۀ خبر یئ خو زۀ به ئے بیا دریاد کړم چه زمُونږ مالِک څنګه
بنی اِسرائیل له مصر نه بچ کړل، خو بل ځل ئے هغه خلق تباه کړل چه ایمان ئے نۀ وو
راؤړے. ۶ یاد لرئ چه کُومو فرښتو چه دَ خپلے درجے خیال ونۀ ساتلو اَؤ خپل
ځائے ئے پریښودلو، نو خُدائے هغوئ په آبدی زنځیرُونو اَؤ په تورتم کښے دَ قیامت دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوئے ورځے پورے ساتلی دی. ۷ دغه شان دَ صُدوم اَؤ عموره اَؤ دَ ګیرچاپیره
ښارُونو مِثال واخلئ چه دَ هغوئ خلق هم دَ هغو فرښتو په شان غیر فطری فعل اَؤ په
حرامکارئ کښے پریوتل، اَؤ هغوئ ته دَ تل په اور کښے سزا ورکړے کیږی، اَؤ دا
زمُونږ دَ پاره عبرت دے.

۸ سره دَ دے دا خلق هم دَ خپلے خوش فهمئ په وجه خپل جِسمُونه پلیتوی، دَ
خُدائے اِختیار سپک ګڼی اَؤ فرښتو ته بدرد وائی. ۹ یاد لرئ چه دَ ټولو نه لوئے
فرښتے میکائیل هم دغسے نۀ وو کړے، ځکه چه څۀ وخت چه هغه دَ مُوسیٰ دَ لاش په
باب دَ اِبلیس سره بحث کولو په هغه وخت ئے دومره هِمت ونۀ کړو چه اِبلیس ته په
بدرد وئیلو په هغۀ اِلزام ولګوی، بلکه دا ئے ووئیل چه "خُدائے دِ تا ملامت کړی." ۱۰
خو دا خلق هغه څیزُونو ته بدرد وائی کُوم چه دوئ نۀ پیژنی، اَؤ چه په کُومو څیزُونو
دوئ په طبعی طور لکه دَ کم عقلو ځناورو پوهیږی، په هغے هم ځان تباه کوی. ۱۱
اَفسوس په هغوئ! هغوئ دا قائن لار خپله کړه، اَؤ هغوئ دَ پیسو دَ خاطره دَ بلعام په
شان ګُمراه شول، اَؤ هغوئ دَ قورح په شان مخالفت وکړو اَؤ دَ هغۀ په شان هلاک شول.
۱۲ هغوئ ستاسو دَ خوراک څښاک په میلمستیاؤ کښے دَ شاملیدو سره دَ مینے اَؤ دَ
محبت موقعه خرابوی لکه چه داغُونه دَ څۀ څیز ښکلا خرابوی، هغوئ بے دریغه عیش
کوی اَؤ خپلے ګیډے ډکوی. دا دَ بے بارانه وریځو په شان دی چه هوا په مخه کړے
وی، دا دَ منی دَ مُوسم دَ ونو په شان دی چه په دواړه اړخه مړۀ دی، یعنے بے میوے
دی اَؤ دَ ویخه راویستلی شوی دی. ۱۳ هغوئ دَ سمندر تُندے چپے دی چه شرمناک
کارُونه دَ ځګُونو په شان غورزوی، هغوئ هغه ستوری دی چه بے واکه دیخوا اخوا
ګرځی، اَؤ دَ دوئ دَ پاره دَ تیارے ځائے دَ تل تر تله ټاکلے شوے دے.

۱۴ حنوک هم چه له آدم نه په اُوومه پیړئ کښے وو، دَ دوئ په باب کښے پیشن ګوئی
کوی چه "ګورئ! مالِک به دَ خپلو زرګُونو پاکانو سره راځی. ۱۵ چه دَ ټولو اِنصاف
وکړی اَؤ ټولو بے دینو له دَ سزا حُکم ورکړی، ځکه چه هغوئ دَ خپلے بے دینئ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مجبورئ ډېر دَ بے دینئ کارُونه وکړل، اَؤ خُدائے بے دینه گُناه گارانو له هم دَ سزا ورکولو حُکم وکړی ځکه چه هغوئ دَ هغهٔ خلاف ډېر څهٔ وئیلی دی.“

١٦ دا گُوریدُونکی اَؤ شکایت کوُونکی خلق دی، هغوئ په خپلو خواهشاتو پسے ځی، هغوئ دَ خپل ځان په حقله غټے غټے خبرے کوی اَؤ دَ خپل مقصد دَ پاره خلقو ته ښے ښے خبرے کوی.

## خبرداری اَؤ هدایات

١٧ خو زما دوستانو! تاسو زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ رسُولانو پیشن گوئی یاده
لرئ. ١٨ هغوئ تاسو ته دا وئیلی وُو چه په آخره زمانه کښے به داسے کسان راځی
چه په تاسو پورے به ټوقے کوی اَؤ دَ خپلے بے دینئ په خواهشُونو پسے به ځی. ١٩
دا خلق به بیلتُون راولی، نفسانی دی اَؤ رُوحُ القُدس نۀ لری. ٢٠ زما دوستانو! تاسو
خپل ځانُونه دَ خپل غوره ایمان په بُنیاد قائم کړئ اَؤ دَ رُوحُ القُدس په طاقت دُعاگانے
کوئ. ٢١ خپل ځانُونه دَ خُدائے په مینه کښے قائم وساتئ، اَؤ دَ هغے ورځے اِنتظار
کوئ چه زمُونږ مالِک عیسیٰ مسیح به په خپل رحم تاسو ته دَ تل ژوندُون درکړی.

٢٢ په شکمنو کسانو باندے رحم وکړئ. ٢٣ اَؤ ځنے دَ اور لمبو نه په نیولو بچ کړئ،
اَؤ په ځنے خلقو په ویرے رحم وکړئ، اَؤ هم له هغه جامو نه نفرت کوئ چه جسمانی
داغ پرے لگیدلے وی.

## دَ خُدائے حمد

٢٤ اوس هغه چه تاسو دَ غورزیدو نه بچ کولے شی اَؤ په خپل جلال کښے مو بغیر دَ
ملامتیا نه په خوشحالئ راوستے شی، ٢٥ دَ یکی یو خُدائے چه دَ مالِک عیسیٰ مسیح په
وسیله زمُونږ خلاصوُونکے دے دِ جلال، شان و شوکت، قُدرت اَؤ اِختیار له ازل نه،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوس اَؤ تل تر تله وى! آمين.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.